مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د زمري اوومه | د ۲۰۱۹ د جولای ۲۹مه | ۴۱۲مه گڼه

# د ولسمشریزو ټاکنو کمرنگه کمپاین؛

## نوماندان وايي، ټول دولتي امکانات د ځانگړو نوماندانو په گټه کارول کېږي




۳

### د ټاکنیزو سیالیو سړه او له ناامنیو ډکه فضا څه پیغام لري؟
۲ مخ

### کانکور؛ پر وړاندې یې شته ستونزې او حللارې
۲ مخ

### د پاکستان د لومړي وزیر خوښي او د ټرمپ بې ثباته خواخوږي
۳ مخ

## هېواد
۴ مخ

### ترکمنستان

د ترکمنستان ۴۵ سلنه خلک د کرنې په سکتور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۲۵ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکتور څخه لاس ته راځي.



## سږ کال په ننگرهار کې د پیازو حاصلات ۳۳ زرو ټنو ته رسېدلي



د ننگرهار ولایت کروندگر خوښ دي چې سږ کال یې د پیازو کروندو ښه حاصل ورکړی او بازار یې هم تر نورو کلونو ښه دی.
د ننگرهار رودات ولسوالي یوه له هغو ولسوالیو ده چې پیازو یې تر نورو ډېر او ښه بازار درلود او کروندگرو ته یې ښه گټه په لاس ورغلې ده.
د یادې ولسوالۍ کروندگر که څه هم له بازاره خوښ دي، خو وايي، د سړو خونو د نشتوالي له امله د پیازو ډېره برخه یې پاکستان ته لېږدول شوې ده.
هغوی غوښتنه کوي، که یې په سیمو کې سړې خونې ورته جوړې شي، نو سبزي به په کې د فصل په وخت زېرمه کېږي او په نورو وختونو کې به د بهرنیو حاصلاتو د واردېدو مخنیوی کوي.
د دغه ولایت د کرنې ریاست په خبره، د راټولو شویو پیازو زیاته برخه یې د روداتو، چپرهار، ښیوې، سره رود او کامې ولسوالیو کې کرل شوې وه.

## د پاکستان سفارت عادي افغانانو ته د ویزې د ورکړې لړۍ بنده کړې ده

په کابل کې د پاکستان سفارت اعلان کړی چې د ټولو عادي افغانانو لپاره یې د ویزو ورکړه بنده کړې ده.
په کابل کې د دغه هېواد د سفارت لخوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې دغه کار یې د سفارت او کونسلگریو بهر د زورواکانو، کمېشنکارانو او باندونو د غړو لخوا د ویزې پر سر له خلکو د پیسو اخیستو په غبرگون کې کړی دی. خو په دغه اعلامیه کې راغلي چې محصلینو، ناروغانو او سوداگرو ته به ویزې له معمول سره سمې ورکول کېږي.
د پاکستان سفارت دغه راز له افغان حکومته غوښتي چې د دې ستونزې د هوارې لپاره ژر تر ژره جدي اقدامات وکړي.
د یادونې ده چې په کابل کې د پاکستان سفارت او په جلال اباد ښار کې د دغه هېواد کونسلگرۍ ته د ویزو تر لاسه کولو لپاره هره ورځ زرگونه کسان مراجعه کوي، خو پاکستان وايي چې دوی یوازې شاوخوا څلورو زرو کسانو ته هره ورځ د ویزې ورکولو ظرفیت لري.
د زرگونو کسانو د ویزو اړتیا ته په کتو، په دې وروستیو کې په کابل او جلال اباد کې د ځینو کسانو لخوا د پیسو په مقابل کې د ویزو ورکولو شکایتونه هم شوي دي.
ویل کېږي چې دا ویزې له لسو زرو افغانیو نیولې تر ۲۰ زرو افغانیو پورې په تور بازار کې پلورل کېږي. خو د پاکستان سفارت وايي چې د دوی رسمي کارکوونکي له هېچا پیسې نه اخلي، ویزې وړیا دي، خو بهر په خپله امنیتي کسان دغه کارونه کوي.

## د بین‌الافغاني مذاکراتو لپاره به ملي ټیم جوړېږي




۲ مخ

## د امرالله صالح پر دفتر په پروني برید کې لسگونو کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده



د زرغون بهیر پر دفتر په پروني ځانمرگي او وسله وال برید کې لسگونو کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده.
دغه برید د پلازمېنې کابل په څلورمه حوزه کې تېره ورځ د ملي امنیت د پخواني رییس او په راتلونکو ټاکنو کې د ولسمشر محمد اشرف غني د لومړي مرستیال امرالله صالح پر دفتر شوی.
د کورنیو چارو وزارت ویلي، نوموړی له دغه بریده روغ وتلی، خو پر خواله رسنیو له ځینو خپرو شویو انځورنو داسې ښکاري چې امرالله صالح پر ښي لاس ټپي شوی دی.
دغه برید تېره ورځ د افغانستان زرغون بهیر پر دفتر، چې ښاغلی صالح یې مشري کوي، شوی او وسله والو بریدگرو له موټر بم وروسته د دفتر ودانۍ ته له ننوتو وروسته پر امنیتي ځواکونو ډزې کولې.
د برید پر وخت پخپله امرالله صالح په دفتر کې موجود و، خو د کورنیو چارو وزارت نصرت رحیمي پر خپله فېسبوک پاڼه لیکلي چې نوموړی له بریده روغ وتلی او خوندي ځای ته رسول شوی دی.
ولسمشر غني پر خپل ټوېټر لیکلي چې امرالله صالح د دې خاورې اصیل بچی دی چې د هېواد د دښمنانو له یوه پېچلي بریده روغ وتلی دی.
د دغه برید د مرگ ژوبلې په تړاو بېلابېل ارقام خپاره شوي، خو ویل کېږي چې لسگونو کسانو ته پکې مرگ ژوبله اوښتې چې ډېری قربانیان یې ملکي وگړي دي.





Easy English Learning
+93 (0) 789 98 9696
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریـــځ

### د ټاکنیزو سیالیو سړه او له ناامنیو ډکه فضا څه پیغام لري؟

پـرون د ولسـمشریزو ټاکنو ټاکنیـز کمپاین پیل شـو. پـه لومړۍ ورځ کمـه احساسـېدله چې ټاکنیـز کمپایـن دې پیل شـوی وي. یـوازې څو غونـډې وې، خـو پـه ټولنیـزو رسنیو کـې بیا یو څـه تبلیغـات وو. لـه دې سره پـرون د ناامنیـو رپوټونـه هـم وو او پـه کابـل کـې د محمد اشرف غنـي د ټیـم د لومړي مرسـتیال امراللـه صالـح پـه دفـتر هم ډلـه ییـز برید وشـو.

د ټاکنیـزو سـیالیو د لومړۍ ورځې سړه فضا او د امراللـه صالـح پـر دفـتر برید څه مانـا لري؟

داسـې ښـکاري چـې د سـولې روانـو خـبرو پـر ټاکنیـزو منـډو تـرړو ژور سـیوری غوړولـی دی. کـه څـه هـم د کاندیدانـو شـورا وایي چـې دوی ټاکنیـزې سـیالۍ دری ورځـې ځنډولـې دي او لـه حکومـت څخـه ځینـې غوښـتنې لـري، خـو پـر کاندیدانـو د سـولې د خـبرو ژور سـیوری پـروت دی. کـه څه هم ولسـمشر غنـي پر ټاکنو ټینـگار کـوي او ډاکټـر عبداللـه هـم د سـیالۍ لپـاره هڅـې کـوي، خو ښـکاري چې ډېری نور کاندیـدان بـاور نـه لـري چـې ټاکنـې بـه وشي، نـو لـه همـدې املـه یـې ټاکنیـزې هڅـې سړې دي. د ټاکنیـزو هڅـو او ټاکنـو کومـې خبرې او فضـا چـې خلـک یـې محسوسـوي، هغـه هم حکومـت او د اشرف غنـي ټیـم جـوړه کـړې ده. یـوازې کاندیدان هم سـاړه نـه دي، بلکې خلک هـم سـاړه دي. خلـک لـه یـوه اړخـه پـر ټاکنو او ټاکنیزو سـیالیو بـاور نه لري. خلـک درک کوي چـې پخـوا یـې هـم پـر رایـو معاملـې شـوې وې او د دوی د رایـو او خوښـې خـلاف حکومت جـوړ شـو. لـه بلـه اړخـه پـه کاندیدانـو کـې هم داسـې څـوک نـه وینـي چـې د دوی د زړونـو او ذهنونـو خـبره او دریـځ ولـري او ولـسي اراده تمثیـل کـړي. لـه بلـه اړخـه خلـک غـوره گڼـي چـې تـر ټاکنـو وړانـدې سـوله وشي. لـه همدې املـه پـه ټاکنـو او ټاکنیزو سـیالیو کـې د برخې اخیسـتو پـر ځـای غـوره گڼي، چې د سـولې غږ تـه هرکلـی ووایـي او پـه دې برخه کې مرسـته او کار وکـړي.

بلخـوا د امراللـه صالـح پـر دفتر برید هـم واضح پیغـام لـري. د دې مانـا دا ده چې که سـوله ونه شي، نـو نـه بـه ټاکنیـز ټیمونـه خونـدي وي او نـه بـه هـم هغه خلـک چې پـه ټاکنـو او ټاکنیزو چارو کـې ښـکېل دي. کلـه چې د امرالله صالح پـه شـان د یـوه پـوره امنیتـي او اسـتخباراتي کـس پـر دفـتر بریـد کېـږي، نـو نـور کاندیـدان او عـام خلـک پـه هېـڅ ډول خونـدي نـه دي. په داسـې سـخت امنیتي حالـت کې ټاکنـې خورا سـتونزمنې دي او کـه حکومـت ټاکنـې وکـړي، بیـا بـه هم خـورا کم خلـک په کې برخـه واخلي او لـه پراخـو سـتونزو سره به مـخ وي.

د سـولې د خـبرو او هلـو ځلـو پـه سـیوري کـې سړې ټاکنیـزې هڅـې، لـه ټاکنـو او ټاکنیـزو چـارو سره د خلکـو نـه لېوالتیـا او لـوړ امنیتـي گواښـونه هغـه څـه دي، چـې پـکار ده جـدي ونیـول شي. لا هـم وخـت دی، پـکار ده چـې سـولې تـه کار وشي او روانـه جگـړه ودرېـږي. لـه سـولې پرتـه ټاکنـې، د درغلیـو، فسـاد، وژنـو، ناامنیـو او گډوډیـو یـوه ټولگـه چـې زمـوږ سـتونزې لا پراخـوي او د حالاتـو لـه سـمون سره هېـڅ مرسـته نـه کـوي.

# کانکور؛ پر وړاندې یې شته ستونزې او حللارې

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د ازموینو ملي اداري د ۱۳۹۸ لمریز کال د کانکور ازموینې پایلې د چنگاښ میاشتې په ۱۹مه اعلان کړې.

کانکور هغه پروسه ده چې د هېواد راتلونکي نسلونه یې خپلې موخې ته د رسېدو او ټولنې ته د خدمت په پار له سره تېروي. کانکور په افغانستان کې له اتو لسیزو زیاته مخینه لري چې له اول نه تر تېرو څو کلونو پورې په ډېر ابتدایي بڼه تر سره کېده، چې له ۱۳۹۶ لمریز کال نه را پدېخوا د نوي عصر په سیستمونو سمبال شوی او په زیاته اندازه د فساد او درغلۍ مخه هم پکې نیول شوې ده.

په دغه تحلیل کې مو د ۱۳۹۸ لمریز کال د کانکور ازموینه، د کانکور پر پروسه باندې د خلکو باور، د لوړو زده کړو وضعیت او په دې برخه کې پر شته ننگونو او فرصتونو بحث کړی دی.

**د ۱۳۹۷ لمریز کال کانکور**

د ۱۳۹۷ لمریز کال د کانکور ازموینه د ۱۳۹۸ لمریز کال د وري میاشتې په اوومه د خوست، لوگر، پکتیا او کونړ له ولایتونو څخه پیل شوه او د چنگاښ میاشتې په ۷مه په کابل کې د وروستۍ ازموینې په اخیستو سره پای ته ورسېده، چې له لس ورځني ځنډ وروسته یې پایلې اعلان شوې.

د ۱۳۹۷ لمریز کال د کانکور په ازموینه کې ۱۷۴۸۷۱ تنو گډون کړی و چې ۶۱۷۹۹ تنه یې لوړو زده کړو بنسټونو، ۱۵۱۳۰ تنه نیمه لوړو زده کړو او ۷۷۷۱۸ تنه یې خصوصي تحصیلي بنسټونو ته معرفي شوي او یوازې ۲۰۲۲۴ تنه بې نتیجې پاتې شوي دي.

همدارنگه د ۱۳۹۷ لمریز کال په کانکور ازموینه کې شاوخوا اویا زره نجونو برخه اخیستې وه او پاتې نور یې هلکان وو. خو د تېر کال په ازموینه کې بیا ۴۸۰۰۰ نجونو او ۹۱۶۰۰ تنه هلکانو برخه اخیستې وه چې د تېر کال په پرتله سږ کال د نجونو د گډون زیاتوالی ښیي.

د کانکور په دغه ازموینه کې د درغلیو په اړه په تېر کې راپورونه زیات وو، خو د ملي یووالي حکومت په راتگ سره د یادې پروسې د روڼتیا په موخه ځینې گامونه واخیستل شول، چې له امله یې تر ډېره حده په دغه پروسه کې روڼتیا رامنځته شوه؛ خو له کانکور نه علاوه، د افغانستان د لوړو زده کړو بنسټونه لاهم له ډېرو ستونزو سره مخ دي.

**پر کانکور باندې د خلکو د باور کچه**

د کانکور ازموینه له پخوا په افغانستان کې دولتي پوهنتونونو ته د شاملېدو یوازینۍ لاره ده. دا هغه برخلیک ټاکونکې ازموینه ده، چې له لارې یې د هېواد د دوولسمو ټولگیو زده کوونکي له فراغت وروسته دولتي پوهنتونونو ته د لوړو زده کړو په موخه ځانونه رسوي.

له تېرو ۱۸ کلونو راهیسې په هېواد کې د نورو برخو په شان، دغه برخه هم د فساد په منگولو کې راگېر وه. د کانکور په کمېټه کې فساد، له اکاډمیکو معیارونو سره د ازموینې د پوښتنو نه مطابقت، په دغه پروسه کې د زورواکو او ځینو دولتي چارواکو لاسوهنې، د یوه شخص پر ځای د بل شخص ازموینه ورکول او نورې جعل کارۍ هغه څه وو، چې د کانکور په پروسه کې د شفافیت په تړاو یې تل د خلکو اندېښنې له ځان سره لرلې.

د ملي یووالي حکومت په راتگ سره د کانکور په ازموینه کې شفافیت او په دغه پروسه کې د فساد مخنیوی، د دغه حکومت له مهمو لاسته راوړنو بلل کېږي. د ملي یووالي حکومت پر مهال د لوړو زده کړو وزارت په کانکور کې د درغلیو د مخنیوي لپاره په ازموینه کې له نویو پرمختللو ماشینونو څخه کار واخیست، سیستم یې داسې رامنځته کړ، چې د پخوا په شان به د گډونوالو پوښتنې سره ورته نه وې، د هر گډونوال لپاره سیستم خپله پوښتنې چاپوي، پاڼې یې ترتیبوي او نومونه پرې لیکي.

هغه کسان چې په دې پروسه کې گډون کوي، په ازموینه کې د پوره شفافیت خبره کوي؛ چې له نوې ټکنالوژۍ (بایومټریک سیسټم) څخه په کار اخیستلو سره د نقل کولو او د بل چا پر ځای په کانکور ازموینه کې برخه اخیستل یا هم د پوښتنو وتل خورا ستونزمن شوي دي، چې له امله یې پر دغه پروسه باندې د خلکو باور هم زیات شوی دی.

**د لوړو زده کړو وضعیت**

له نن څخه پوره ۸۷ کاله وړاندې، په ۱۳۱۱ لمریز کال د لړم (عقرب) میاشتې په لومړۍ نېټه د ترکیې هېواد د متخصصینو په همکارۍ په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د لوړو زده کړو په برخه کې په کابل ښار کې د طب پوهنځی تاسیس شو او په هېواد کې یې د لوړو زده کړو د بنسټ ډېره کېښوده.

له ۲۰۰۰ ز کال وروسته په افغانستان کې د نوي نظام په را منځته کېدو او له عصري ټکنالوژۍ نه په کار اخیستلو سره، د نورو برخو په شان، په دې برخه کې د پام وړ بدلون رامنځته شو، چې اوسمهال په ټول هېواد کې ۳۶ دولتي او ۱۳۹ خصوصي د لوړو زده کړو بنسټونه فعالیت لري، چې شاوخوا ۳۰۰ زره محصلین په کې پر زده کړو بوخت دي او ټول د لوړو زده کړو وزارت له خوا د میتودیکي نظره رهبري کېږي. خو په تېرو ۱۸ کلونو کې د میلیاردونو ډالرو پر مصرف سربېره، افغانستان لا هم د لوړو زده کړو په برخه کې د کیفیت له اړخه له ستونزو سره مخ دی، څنگه چې هیله کېده په هماغه کچه د کیفیت په ډگر کې د پام وړ تغیر نه دی راغلی.

له لویه سره جگړې او ناامنۍ د نورو برخو په شان دا برخه هم اغېزمنه کړې ده؛ خو په بل اړخ کې بیا لاندې ذکر شوي نقاط هغه څه دي چې دا برخه یې له زیاتو ستونزو سره مخ کړې:

- د لوړو زده کړو په برخه کې په معیار د برابرې ستراتېژۍ نشتون
- د لوړو زده کړو وزارت د مدیریت کمزورتیا
- د مسلکي او علمي کادرونو نشتوالی
- د تعلیمي نصاب زوړوالی او د اوسني عصر له اړتیاوو سره یې نه برابرښت
- د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د فساد موجودیت او د نظارت کمزورتیا
- د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د پرمخ تللو وسایلو نشتون
- د علمي څېړنو کموالی او د دې برخې لپاره د زېربنایي بنسټونو نشتون.

په پوهنتونونو کې د یادو او دې ته ورته نورو ستونزو موجودیت د دې لامل شوی، چې له دغو بنسټونو څخه فارغ شوي کسان پر ټولنه باندې بوج شي، د کار او دندې زمینه نه وي ورته برابره، له ډېرو ستونزو سره مخ و او ډېری وخت همدا کسان په ټولنه کې نورو کسانو ته په سرخوږي اوړي.

**له پوهنتون نه فارغ ځوانان له بې کارۍ کړېږي.**

افغانستان د هغو ځوانو هیوادونو له جملې څخه دی، چې د مرکزي سر شمېرنې له مخې یې ۴۵٪ نفوس ځوانان تشکیلوي؛ خو که د دغه هیواد د ځوانانو حالت له نورو هیوادونو سره پرتله کړو، دا په ډاگه کېږي چې افغان ځوان نسل یو هېر شوی او شاته غورځول شوی نسل دی چې له سلگونو ټولنیزو ستونزو سره لاس او گریوان دی. هر کال مو په زرگونو ځوانان د کانکور په بې پایلو زده کوونکو ورگډېږي او آن له پوهنتونه فارغ ځوانان هم پر خپل راتلونکي بې باوره شوي دي. د دغه ځوان قشر لویه برخه له جدي بیکارۍ سره لاس او گریوان دي چې ښه بېلگه یې د ښارونو په چوکونو کې لیدل کیږي، چې له سهاره تر ماښامه د مزدورۍ لپاره ناست وي، خو ماښام ځینو ته کار پیدا او ځینې ناامیده کورونو ته روان شي. دغه ټولگه ځوانان بیا ډېری یې د بېکارۍ له وجې د مخالفینو لیکو ته ورځي او یا هم د اقتصادي او ټولنیزو ستونزو له امله له هېواده تېښتې ته اړ کیږي. د ملي یووالي حکومت په دوره کې څه د پاسه یو میلیون ځوانان بېکاره شوي. د یادولو وړ ده چې د تېر په پرتله د فقر اندازه په هېواد کې ورځ تر بلې په زیاتېدو ده چې اوسمهال د ټول نفوس ۵۴.۵ سلنه خلک د بېوزلۍ له کرښې ټیټ ژوند تېروي او په خپله د افغان ولسمشر اشرف غنی په وینا، هره شپه د هېواد ۱۵ سلنه وگړي وږي ویده کېږي. نو له دې معلومېږي چې گډ حکومت د فارغېدونکیو ځوانانو د اشتغال لپاره هیڅ میکانیزم او پالیسي نه لري.

**پایله**

د کانکور په ازموینه کې باید په بنسټیز ډول اصلاحات راشي او د دې لامل شي چې د هېواد تر ټولو ښه استعدادونه وکړای شي، د لوړو زده کړو نظام ته لاره ومومي او یا د تحصیلي بورسونو له امکاناتو څخه په گټې اخیستنې سره له هېواده بهر زده کړې وکړي. د دې منظور لپاره، یو له اساسي گامونو څخه دا دی چې د ښوونې او روزنې نظام، په ابتدایي مقطع کې باید داسې تنظیم شي، چې د ټولنې د استعدادونو د متوازنې او همگاني ودې فرصت رامنځته کړي. د کانکور ازموینه هم باید له اوسني وضعیت څخه چې د ولایتونو په کچه اخیستل کېږي راووځي او د هر ډول زور د چلولو او سیمه‌ییزو قدرتمندانو او یا متنفذینو له اغیز څخه بچ شي، چې سږ کال د کانکور ازموینه د الکترونیکي څارنې او ارزونې سره مل وه. په ډېری هغو برخو کې چې مشکل و، هغه حل شوی دی، خو بیا هم ځینو اړینو اصلاحاتو ته چې پورته مو ذکر کړل اړتیا شته چې راوستل شي، همدارنگه حکومت باید د هغو ځوانانو لپاره چې هغه له پوهنتون څخه فارغیږي، د هېواد دننه د لنډمهاله او اوږدمهاله پلان له مخې په کار وگوماري او له هېواد نه بهر د کار زمینه برابره کړي؛ څو دا ځوانان وکولای شي چې هغه ټکنالوژي چې په نورو هېوادونو کې استفاده ترې شوې او د هغه هېواد د پرمختگ سبب شوې، خپل هېواد ته راوړي او د هېواد د پرمختگ لپاره ترې مؤثره استفاده وکړي.

## خلیلزاد: د بین‌الافغاني مذاکراتو لپاره به ملي ټیم جوړېږي

په ناروې کې له طالبانو سره د بین‌الافغاني مذاکراتو د پلاوي پر سر یوځل بیا په کابل کې د اختلاف نښې نښانې را برسېره شوې دي.

د سولې په چارو کې د دولت وزیر عبدالسلام رحیمي د شنبې په ورځ وویل، چې تر راتلونکو دوو اونیو پورې افغان حکومت له طالبانو سره مخامخ خبرو ته کېنبېني او د دغو مذاکراتو لپاره پر یوه ۱۵ کسیز پلاوي کار کوي.

خو د حکومت له دغه اعلان وروسته، د افغان سولې په برخه کې د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد په یوه ټویټ کې وضاحت ورکړ، چې د بین‌الافغاني مذاکراتو لپاره به یو ملي ټیم جوړېږي، چې حکومتي چارواکي به هم پکې وي.

هغه زیاته کړه: «باید دا واضح کړم چې بین‌الافغاني مذاکرات به زموږ او طالبانو ترمنځ د توافقاتو له نهایي کېدو وروسته کېږي. دا مذاکرات به د طالبانو او د خبرو اترو د یوه اغېزناک ملي ټیم ترمنځ وي، چې افغان جگپوړي چارواکي، د کلیدي سیاسي گوندونو استازي، مدني ټولنه او ښځې به پکې شامل وي».



په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر هم له افغان حکومت سره خبرې رد کړې او وایي چې دوی له افغان حکومت سره د نورو جهتونو په څېر، د یوه سیاسي جهت په توگه خبرې کوي.

په قطر کې د طالبانو د دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي: «د خارجي عسکرو د وتلو د مهالوېش له اعلان وروسته، به د ټولو سیاسي جهتونو له مشترک مذاکراتي ټیم سره بین‌الافغاني مذاکرات پیلېږي. د کابل اداره به د حکومت په حیث نه، بلکې د نورو سیاسي جهتونو په څېر یو جهت وي».

په ورته مهال اجرایه رییس او ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند عبدالله عبدالله هم د افغان حکومت او وسله والو طالبانو ترمنځ پر بین‌الافغاني مذاکراتو ټینگار کړی دی.

بلخوا د چارو شنونکي او د ملي شورا غړي وایي، چې د دولت او متحده ایالتونو ترمنځ د مذاکراتو نه همغږي او پر لېستونو جلا جلا کار کول، روانه پروسه سبوتاژ کولی شي او یاد مذاکرات به هم د قطر غونډې له برخلیک سره مخ شي.

د یادونې ده چې ټاکل شوې، د اگسټ په دویمه اونۍ کې د طالبانو او متحده ایالتونو ترمنځ هوکړه لیک لاسلیک شي او د دې میاشتې په اخر کې به په ناروې کې طالبان، افغان سیاسیون او د حکومت استازي په یوه بین‌الافغاني کنفرانس کې سره راټول شي.

# د پاکستان د لومړي وزير خوښي او د ټرمپ بې ثباته خواخوږي

لیکوال: حسين حقاني/ ژباړه: داوود محمدي

د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د پاکستان لومړي وزير عمران خان او استخباراتي ادارې ته دومره څه ورکړل چې اوس يې پر خوښۍ سره نمانځي. څرنگه يې چې وړاندوينه کېده، د عمران خان او ټرمپ ترمنځ کتنه د پاکستانيانو له هيلو سره سمه وشوه. عمران خان به له بېرته راستنېدو سره سم اوس دا دعوه کوي چې هېواد يې له نړيوالې انزوا څخه وويست، د افغانستان د سولې په پروسه کې يې اساسي کردار تر لاسه کړ او حتی د کشمير په مسئله کې يې د ټرمپ د گډون لېوالتيا زياته کړه.

عمران خان او پاکستاني نظامي او استخباراتي ادارو همدا فرصت غوښتو، که څه هم چې لنډمهاله به وي. ظاهراً به چين له پاکستان سره خپلې اړيکې عادي ساتي، خو له ټرمپ سره د عمران خان نږدې کېدل به بيجېنگ خواشينی کړي، خو بيا به هم خپل تشويش څرگند نه کړي. د پاکستان مخ پر ځوړ اقتصادي حالت به همداسې روان وي او د پانگې اچونې کومې نښې لا نه تر سترگو کېږي. پاکستان په تېر يوه کال کې ۱۶ ميليارده ډالره پورونه اخيستي دي. صادرات يې اوس هم د رکود په حالت کې دي او د بهرنيو اسعارو ذخيره يې تر اتو ميلياردو ډالرو زياته نشوه.

همدارنگه، د پخواني لومړي وزير نواز شريف لور، مريم نواز شريف په ټول پنجاب کې ولسي محبوبيت او ملاتړ تر لاسه کړی دی چې داسې وضعيت د پاکستان په تر ټولو بانفوسه آيالت کې د عمران خان د سياسي ملاتړ متزلزله حالت ښکارندوی دی. د حکومت کمزوري تاکتيکونه، پوځي ملاتړ او پر رسنيو پابندي ونشو کولای چې حکومت د مريم نواز شريف مخه ونيسي. هغه د خپل پلار په ټاکنيزه حوزه کې ملاتړ او نفوذ ټينگ وساته او خان او نظاميانو ته يې سردردي جوړه کړې ده.

که د ټرمپ او امريکا په اړه د عمران خان له پخوانيو ويناوو څخه تېر شو، له ټرمپ سره د عمران خان کتنه يو ښه فرصت و. لېکن د ټرمپ خواخوږي هم بې ثباته او د باور وړ نه ده، لکه عمران خان چې په يو ټرن (U-turn) خان مشهور دی، هغه نه يوازې داسې شاتگ توجيه کوي، بلکې ځان ورته حقيقي رهبر هم ښکاري.

ټرمپ په عادي حالت کې غوره دی

د ټرمپ له لوري د عمران خان مېلمه پالنه په دې مانا نه ده چې هغه ناڅاپه د پاکستان خواخوږی شو. هغه د افغانستان په مسئله کې د پاکستان مرسته غواړي چې په بدل کې به د پاکستان غوښتنې مني. د ټرمپ لخوا د عمران خان او پاکستان ستاينه هغه تاکتيک دی چې تر دې وړاندې د شمالي کوريا له کېم جونگ اون سره هم تر سره کړی و چې له دې لارې په پايله کې يوې معاملې ته سره ورسيږي.

ستاسو په ياد دي چې کله ټرمپ وويل چې دی او کېم جونگ اون يو له بله سره مينان شوي دي؟ يا هغه مو په ياد دي چې ويې ويل، د شمالي کوريا د خونکار ډيکټاټور «ښايسته ليک» يې تر لاسه کړی دی چې د اټومي وسلو د نه جوړولو مذاکراتو د پرمختگ نښه يې بلله؟ د کوريا په ټاپو کې کومه لويه مسئله نه وه او ټرمپ به پر دې ډېر ژر پوه شي چې د جنوبي آسيا مسئلې د ځمکو او جايدادونو تر مذاکراتو ډېرې پېچلې دي.

د بېلگې په توگه، په داسې حال کې پاکستان ممکن د طالبانو او امريکا ترمنځ مخامخ خبرو ته زمينه مساعده کړي، خو که طالبان اوربند اعلان نه کړي او له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته چمتو نه شي، پاکستان به دوی ته له پناه ورکولو څخه لاس وانه خلي. ټرمپ غواړي چې امريکا د دې جگړې گټونکی اعلان شي، خو که د سولې اوسنيو خبرو ته وگورو، طالبان گټونکي ښکاري.

د ټرمپ دا خبره چې د افغانستان جگړه به د WMD يا د ډله ييزې ويجاړۍ د وسلو له لارې په لسو ورځو کې پای ته ورسوي، له سختو غبرگونونو سره مخ شوې او آن د خاموش او آرام افغان ولسمشر غوسه يې هم راپارولې ده. د ټرمپ داسې ويناوې به د طالب ضد افغانانو په يو ځای کېدو اغېز ولري او د امريکايانو په اصطلاح په بين‌الافغاني مذاکراتو کې به دوی سخت دريځ اختيار کړي.

**د «خان» د خوښۍ لنډه موده**

امريکا له هغه حالت څخه اوس ډېره لرې راغلې چې د افغانانو په مشرۍ د سولې مذاکرات يې غوښتل او پر پاکستان به يې د طالبانو لخوا په افغانستان کې د بريدونو له امله تورونه لگول، خو اوس هم طالبان د دوی دښمنان دي او پر دې هر يو پوهېږي چې د طالبانو مشران چېرې اوسيږي. خو که د سولې خبرې له ناکامۍ سره مخ شي او د ټرمپ د جگړې د ختمېدو هيله له منځه ولاړه شي، دا به د پاکستان لپاره په لوی تاوان بدله شي.

پاکستان غواړي چې امريکا دې د کشمير په مسئله کې پر هند فشار واچوي، چې په بدل کې به يې موږ له دوی سره د طالبانو په مذاکراتو کې مرسته وکړو. داسې غوښتنې پوره کېدل ممکن د امريکا تر وسه هم لوړه وي. لکه څنگه چې د ټرمپ تر خبرو وروسته، د هند د بهرنيو چارو وزارت له يو ساعت نه په کم وخت کې د کشمير په اړه د امريکا د منځگړيتوب د خبرو وضاحت ورکړ او ويې ويل چې هند به د هند او پاکستان د لانجو د دوه اړخيزه حل له دريځ څخه پر شا نشي. د امريکا د بهرنيو چارو وزارت خپلې خبرې بېرته واخيستې او د دواړو هېوادونو د لانجو د حل لپاره يې پر دوو اړخيزو خبرو ټينگار وکړ. امريکا ممکن له هند څخه وغواړي چې له پاکستان سره د سولې خبرې پيل کړي، خو تر څو چې په پاکستان کې د جهادي ډلو په اړه د هند شکايتونه رفع نشي، نوی ډيلی به د امريکا غوښتنې و نه مني.

د عمران خان او ټرمپ له کتنې سره بيا هم د پاکستان اړيکې له امريکا سره ښې نه دي. پاکستانيان غواړي چې ټرمپ او امريکا دې له گاونډيانو سره د دوی لانجې حل کړي او له پاکستان سره دې تر خپلې اندازې زياتې مرستې وکړي، خو في‌الحاله د داسې غوښتنو د پوره کېدو امکان نشته.

کله چې ټرمپ امريکا د نړۍ څوکيداره نه بولي، هغه د امريکا د منځنۍ طبقې استازيتوب کوي او نه غواړي چې هېواد يې د نړۍ د لانجو حلولو مسووليت پر غاړه واخلي.

له ټرمپ سره د سپينې ماڼۍ په دفتر کې د عمران خان د کتنې خوښي به زيات وخت دوام ونه کړي. د پاکستان د لانجې حل د نظاميانو واکمنۍ ختمول، وسله والې ډلې له منځه وړل، د اقتصاد د رغونې لپاره له دوامداره مرستو او پورونو اخيستو څخه لاس په سر کېدل، د هند او افغانستان په گډون له گاونډيانو سره رښتينې اړيکې جوړول او په هېواد کې قومي، مذهبي او سياسي تنوع ته اجازه او ودې ورکولو کې نغښتې ده، خو اوسمهال داسې هېڅ نښه نه ليدل کېږي.

حتی که پاکستان د افغانستان په اړه د امريکا غوښتنې پوره هم کړي، داسې امکان شته چې په پای کې به بيا سره خوابدي شي. د افغانستان د سولې خبرو، پاکستان ته د لنډمهاله معاملې گټه په لاس ورکړه، خو چې کله امريکايان له افغانستانه ووځي، د ټرمپ لپاره د پاکستان اهميت هم له منځه ځي.

ټرمپ، عمران خان ته د کتنې پر مهال وويل چې «پاکستان لوی هېواد دی»، هغه ښايي بله ورځ له دې خبرې په شا شي او پر دې پوه شي چې «هند تر دې (پاکستان) هم لوی هېواد دی».

# د ولسمشريزو ټاکنو کمرنگه کمپاين؛

## نوماندان وايي، ټول دولتي امکانات د ځانگړو نوماندانو په گټه کارول کېږي




تېره ورځ په ټول هېواد کې په رسمي توگه د ولسمشريزو ټاکنو لپاره کمپاين پيل شو. نوماندان به نږدې دوې مياشتې په دې کمپاينونو کې د يو بل پر وړاندې سيالي کوي او خپلې برنامې به له ولس سره شريکوي. خو د کمپاين لومړۍ ورځ کمرنگه وه، يوازې ولسمشر غني او اجرايه رييس ډاکټر عبدالله عبدالله خپل کمپاين پرانيست او خپلو پلويانو ته يې ويناوې وکړې. نور نوماندان بيا وايي چې ټول دولتي امکانات د مشخصو نوماندانو لپاره کارول کېږي او د دوی اړتياوو ته حکومت پاملرنه نه کوي.

پرون ولسمشر غني د لويې جرگې په خيمه کې خپلو پلويانو ته وينا وکړه، هغه تر ډېره تېرې ژمنې تکرار کړې او ولس ته يې وويل چې ده په خپله پنځه کلنه دوره کې هېواد او خلکو ته څه کړي دي. ډاکټر عبدالله عبدالله هم کمپاين پرانيست او په خپلو لومړنيو ويناوو کې يې پر ولسمشر غنی لفظي بريدونه وکړل او د هغه دوره يې فاسده، د فاسدو کسانو د گومارلو او ناکاره کسانو د راوستو دوره وبلله.

بلخوا د ولسمشريزو ټاکنو هغه نوماندان چې ټاکنيز کمپاينونه يې نه دي پيل کړي وايي، ټول دولتي امکانات د يوه خاص ټيم په گټه کارول کيږي او مخکې له مخکې ورته ټول دولتي امکانات برابر شوي دي. د ولسمشريزو ټاکنو نوماند فرامرز تمنا وايي: ((له تېرو دوو مياشتو راهيسې په کابل او ټولو لويو ښارونو کې لوحې او بېل بوردونه د ولسمشر غني د ټيم له لوري کرايه شوي دي. دوی د استقلال د جشن په پلمه ټول ځايونه نيولي دي او دوی نه شي کولی خپلې لوحې او انځورونه هلته نصب کړي. له دې ښکاري چې ولسمشر غني له خپل مقام ناوړه گټه پورته کوي. هغه هر څه د ځان په گټه څرخوي او ټول دولتي امکانات د ده په خدمت کې دي)).

ولسمشرۍ ټاکنو ته ولاړ ځينې نوماندان وايي، د کمپاينونو د کمرنگتيا يو لامل يې دوی ته د حکومت لخوا د امنيتي تدابيرو نه نيول دي. دوی وايي، د حکومت هغه ژمنې چې ټولو کانديدانو ته به امنيتي امکانات ورکوي، نه دي پوره شوې. د ولسمشريزو ټاکنو نوماند ابراهيم الکوزی وايي: ((له نورو نوماندانو خبر نه يم، خو زما نه امنيت نيول شوی دی او نه امنيتي امکانات راته برابر شوي دي. وياندويان دروغ وايي، ما پخپله هڅه کړې چې د کورنيو چارو له وزارت سره ستونزه حل کړم، خو گټه يې نه ده کړې)).

په ورته وخت کې د ملي شورا غړي هم له ټاکنو مخکې سوله مهمه بولي او وايي، په افغانستان کې په ټاکنو د خلکو باور له منځه تللی دی. د ولسي جرگې غړی سيد احمد سيلاب وايي: ((ټاکنو ته ولس اندېښنې لري. دا اوس هم چې ټاکنې کمرنگه دي، ولس فکر کوي چې ټاکنې نه کېږي. دوی فکر کوي چې سوله مهمه ده او ټاکنې ښايي د سولې لپاره وځنډول شي. رښتياهم سوله مهمه وه، حکومت بايد سوله تر ټاکنو مخکې کړې وای، ځکه سوله د شفافو او عادلانه ټاکنو سبب کېده)).

د انتخاباتي سيالۍ په لومړۍ ورځ ولسمشريزو ټاکنو ته د ولاړو کانديدانو شکايتونه داسې مهال دي، چې د کابل ښار په واټونو کې د ولسمشر غني او اجرايه رييس عبدالله عبدالله په گډون، محدود شمير کانديدانو خپل کمپايني عکسونه او بېنرونه لگولي او د نورو هغو نه تر سترگو کيږي.

# ډانفورډ: په منځني ختيځ کې لاهم د داعش ډلې گواښونه پر ځای پاتې دي

د امريکا د مرکزي قوماندانۍ مشر جنرال جوزېف ډانفورډ خبرداری ورکړی چې په منځني ختيځ کې لاهم د داعش وسله والې ډلې گواښونه پر ځای پاتې دي.

نوموړي چې د عراق په پلازمېنه بغداد کې يې د امريکا پر مشرۍ د داعش پر وړاندې ائتلاف قوماندانانو ته خبرې کولې، خبرداری ورکړی، سربېره پر دې چې داعش په عراق او سوريه کې ځپل شوی، خو لا هم په سيمه کې د دې ډلې گواښونه پر ځای پاتې دي.

ډانفورډ ويلي چې سربېره پر دې چې د داعش خلافت د ائتلاف د ځواکونو له لوري له منځه وړل شوی، خو لاهم په سيمه کې د دې ډلې ايډيالوژي حاکمه ده او که مخنيوی يې ونه شي، سيمه به يو ځل بيا له جدي گواښونو سره مخ شي.

نوموړي دغه راز هلته مېشتو امريکايي ځواکونو ته ويلي چې د دوی د ماموريت پر وړاندې لاهم خنډونه شته او دوی بايد هره شېبه د سخت وضعيت کابو کولو ته تياری ولري.

نوموړي دغه راز په بغداد کې خبريالانو ته ويلي: «موږ د داعش پر وړاندې په هغو لاسته راوړنو چې له ۲۰۱۵ ز کال څخه وروسته مو درلودې، وياړو، له دې ډلې مو لوی مرکزونه لکه، رقعه، موصل او فلوجه ونيول، خو دا په دې مانا نه ده چې په سيمه کې د دې ډلې گواښ په پوره توگه له منځه تللی دی».

دا په داسې حال کې ده چې داعش ډلې د لومړي ځل لپاره په ۲۰۰۶ ز کال د عراق په ځينو لرې پرتو سيمو کې خپل فعاليتونه پيل کړل او ډېر ژر يې په دغه هېواد کې ځينې د دولت خلاف وسله والې ډلې له ځان سره يوځای کړې.

يادې ډلې په ۲۰۱۴ ز کال کې د عراق په څو ښارونو کې خونړي بريدونه پيل کړل او ډېرې سيمې يې تر خپلې ولکې لاندې راوستې، چې ورسره سم د امريکا په مشرۍ لوېديځو هېوادونو د دغه ډلې د فعاليتونو د کابو کولو لپاره هوايي ائتلاف رامنځته کړ او دغه ډله يې د عراق له ځينو ښارونو په شاتمبولو ته اړ کړه.

## د کتـاب خبـرې

# پښتانه


## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### دوهم څپرکی

### له سوله ییزو سرحدي سیمو د افراطیت تر بستره




**لویه لوبه**

د پښتنو په سیمو کې جګړو، مخالفتونو او د زبرځواکې امپراتورۍ ځینې سیاسي او حقوقي جوړښتونه جوړ کړل چې تر نن ورځې ادامه لري. په نولسمه پېړۍ کې د درانیو د امپراتورۍ له کمزوري کېدو سره د اروپایي امپریالېزم د تمایل په سبب «لویه لوبه» پیل شوه. په نننۍ «افغانستان» او «پاکستان» کې د «پښتنو» سیمې د لویې لوبې په «مرکز» واوښتې. د ختیځ هند برېټانوي کمپنۍ په ۱۸۰۴ ز کال ډهلی ونیو. برېټانوي ځواکونو په ۱۸۳۹ ز کال پر افغانستان یرغل وکړ. لومړۍ افغان-انګلیس خطرناکې جګړې تر ۱۸۴۲ ز کال پورې دوام وکړ. برېټانوي ځواکونو کابل کې ماته وخوړه. د انګرېزانو ټول پوځ نابود شو، وروسته هغوی ختیځ ننګرهار ته پر شا شول. د ۱۸۲۰ ز لسیزې په پای کې انګرېزانو ته د تزاري روسیې د پراختیا اندېښنه پیدا شوه. روسیه تر ۱۸۷۶ ز کال وړاندې د افغانستان پولې ته نږدې منځنۍ اسیا ته ورسېده. په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره تزاري روسیې د امو سیند شمالي هېوادونه تر کنټرول لاندې ونیول، دا سیند د افغانستان د شمالي پولې تر څنګ پروت دی. د امیر شېرعلي خان د هغو هڅو له کبله چې غوښتل یې له خپل شمالي ځواکمن ګاونډي سره دوستانه اړیکې ولري، انګرېزانو په ۱۸۷۸ ز کال دوهمه افغان-انګلیس جګړه وکړه. انګرېزانو امیر شېرعلي خان له تخت وغورځاوه او له کابله یې شړلو ته اړ کړ. له دې جګړې سره لویه لوبه اوج ته ورسېده.

د کابل له نیولو سره سم انګرېزانو د امیر شېرعلي خان پر زوی امیر یعقوب خان فشار راووړ چې له هغوی سره په ۱۸۷۹ ز کال د ګندومک تړون لاسلیک کړي. امیر انګرېزانو ته د سفارت د پرانیستلو پر اجازې راضي شو او د یو شمېر سرحدي ولسوالیو کنټرول چې اوسنۍ فاټا او د بلوچستان ځینې سیمې پکې راتلې، هغوی ته په واک کې ورکړې. د دې تړون له مخې انګرېزان اړ وو چې پر افغانستان د بهرني یرغل پر مهال د افغانستان ملاتړ وکړي. راج یوه اندازه مالي او د وسلو د ورکړې کلنۍ همکاري ومنله. وروسته له هغه نورو افغان حکومتونو دا تړون نه مانه، ځکه دا یو اجباري تړون و. له ۱۸۷۰ ز کال څخه تر ۱۸۹۶ ز کال پورې، د امپراتورۍ د لا کنټرول لپاره روسیې او برېټانیې شمالي او لوېدیځ سرحدونه له مرکزي اسیا، ایران او چین سره وټاکل.

له دوهمې افغان-انګلیس جګړې وروسته انګرېزانو د خپل کنټرول او قدرت لپاره نوي میکانېزمونه وړاندې کړل. د افغانستان، د هغو پښتنو او بلوڅو سیمو د سرحدونو لپاره یې چې د انګرېزانو تر کنټرول لاندې وې، یو ځانګړی حقوقي او حکومتي میکانېزم جوړ کړی و. انګرېزانو غوښتل ټول واک په خپل لاس کې واخلي. هغوی د امیر شېرعلي خان وراره عبدالرحمن خان چې په مرکزي اسیا کې اوسېده راوغوښت او په ۱۸۸۰ ز کال پر تخت کېښناست.

نوموړي د دې اوسپنیز امیر په شل کلنه واکمنۍ کې ډېر مخالفتونه وکړل. فرمان یې ورکړ چې له مخې یې د افغانستان ټول اداري بنسټونه جوړ شي، له دې سره یې د معاصر افغانستان بنسټ کېښود، هغه له ډیورنډ کرښې سره هم هوکړه وکړه. ډېری تاریخ پوهان وایي چې دا د هغه یوه تېروتنه وه چې د پښتنو سیمې یې ووېشلې.

په ۱۸۹۳ ز کال د ډیورنډ کرښې له جلا کېدو سره انګرېزانو د پښتنو پنځه سیمې په مستقیمه توګه د ډهلي د مرکزي حکومت له کنټرول سره وتړلې. د خیبر لپاره یو سیاسي افسر په ۱۸۷۸ ز کال وګمارل شو. کورمه په ۱۸۹۲ ز کال یوه اجنسي شوه. په ۱۸۹۵ ز او ۱۸۹۶ ز کلونو کې وزیرستان او ملکنډ ایجنسیانې شوې. هند کې برېټانوي نایب الحکومه، لارډ کرزون په ۱۹۰۱ ز کال د شمال لوېدیځ سرحدي ولایت بنسټ کېښود. مومند، باجوړ او اورکزي ولسوالۍ وروسته بیا د پاکستان له رامنځ ته کېدو سره ۱۹۴۷ ز کال له نورو سیمو جدا شوې او د ځانګړو ایجنسیو په توګه معرفي شوې. انګرېزانو د دې سیمو لپاره یو سخت حقوقي رژیم (د سرحدي سیمو د جرایمو قانون یا FRC) وړاندې کړ. دا قانون لا هم فاټا کې عملي بڼه لري. (البته د دې کتاب تر لیکلو او چاپولو پورې).

له لومړۍ افغان-انګلیس جګړې سره د مخکې تګ پالیسۍ (Forward Policy) مخه ډب شوه چې موخه یې له امو سیند څخه د روسانو لیرې کول وو. ډهلي د تړلي سرحد پر پالیسۍ (Closed Border Policy) تکیه وکړه چې له مخې یې حائل سیمه (buffer zone) پرانیستل شوه(ژ: دا هغه زون یا قلمرو وي چې دوه یا څو لوري په دې موافقه کوي چې په یاده سیمه کې به یو هم «مداخله» نه کوي). دا مهال برېټانوي مامورینو د سرحدي سیمو لپاره د درې غبرګو پولو (Threefold Frontier) اصطلاح کاروله. هغه سیمې چې د دوی له لوري په مستقیمه توګه رهبري کېدې، د لومړۍ کرښې، هغه پښتنې سیمې چې د افغانستان او شمال لوېدیځ سرحدي ولایت ترمنځ پرتې وې او هغوی پرې غیر مستقیم کنټرول لاره، د دوهمې کرښې او نیپال او افغانستان چې همدا مهال تحت الحمایه سیمې وې، د درېیمې کرښې په توګه وې. په ټوله کې دا درې غبرګې پولې د حائل په توګه راڅرګندې شوې.

د برېټانوي امپراتورۍ او تزاري روسیې ترمنځ د ۱۹۰۷ ز کال کنوانیسیون لویه لوبه په رسمي توګه پای ته ورسېده. پارس د دې تړون په ترڅ کې د نفوس د سیمې په توګه راڅرګند شو. په رسمي توګه د روسانو له لاسوهنې څخه د افغانستان د لوېدیځو پولو ساتنه وشوه. دواړه لوري دې هوکړې ته ورسېدل چې چین به پر تبت کنټرول ولري. پېټرزبرګ ومنل چې افغانستان به د برېټانیې د نفوس ساحه وي، د هغوی په کورنیو چارو کې به لاسوهنه نه کوي او نه به پرې یرغل کوي. د افغانستان واکمن، امیر حبیب الله خان دا تړون ځکه غیر قانوني وباله چې کابل پکې د یوه لوري په توګه شامل نه و. زبر ځواکونو د هغه انتقاد ته لړ پاملرنه وکړه. **دوام لري...**

# ترکمنستان

حشمت الله نوري

تر کمنستان د منځنۍ آسیا په جنوب لوېدیځه برخه کې د کسپین د سمندرګي په ختیځ کې د شمالي عرض البلدونو د ۳۷ او ۴۱ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۵۱ او ٦۸ درجو په مینځ کې موقعیت لري، چې پراخوالی یې ۱۸۸۴۵۸ میل مربع ته رسېږي.

د ترکمنستان ختیځ ته ازبکستان، لوېدیځ ته د کسپین سمندرګی، شمال ته قزاقستان او جنوب ته یې ایران موقعیت لري.

دا چې ترکمنستان لوړې سیمې او ډېر غرونه نه لري، ځکه یې هوا دښتي او تووده ده. د ټول ترکمنستان د تودوخې منځنۍ کلنۍ اندازه د سانتیګراد په کچه ۱۵ درجې ده. په دوبي کې د دغه هېواد هوا ۳۵ او د قراقرم د ډاګ په جنوبي برخو کې ۵۰ درجې تووده وي. د ترکمنستان د لوېدیځو برخو هوا د کسپین د سمندرګي د اغېزې له امله لنده ده.

د دغه هېواد ۸۱ سلنه خاوره د قراقرم په شان وچو ډاګونو نیولې ده، چې ان تر قزاقستان پورې پراته دي. دغه پراخ ډاګونه اوبه او باران نه لري او په اوسنیو شرایطو کې د کرلو وړ نه دي.

د دغه هېواد پلازمېنه د عشق آباد ښار دی او ټولټال څه کم شپږ میلیونه نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۱۱ کسان ژوند کوي.

د ترکمنستان ٦۰ سلنه خلک په ښارونو او ۴۰ سلنه یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دوو ماشومانو د درلودو حق لري.

ترکمنستان د اداري وېش له پلوه پر پنځو ولایتونو وېشل شوی دی. هاردزو، دروازه، تاشاوز، مري، کارابکدول، چارسو، خیوه او زاودا یې مهم ښارونه دي.

د دغه هېواد د حکومت ډول جمهوري دی. اساسي قانون یې د ۱۹۹۲ ز کال د مې په ۱۸مه تصویب شوی دی. په دغه قانون کې په ۲۰۰۳ ز کال کې ځینې بدلونونه تصویب شوي دي. د دغه هېواد د وزیرانو شورا غړي او مرستیالان د ولسمشر لخوا ټاکل کیږي.

په ترکمنستان کې ولسمشر د پنځو کلونو لپاره د خلکو په خوښه ټاکل کیږي. د ترکمنستان پارلمان یوه جرګه لري، ملي شورا یې ۱۲۵ انتخاباتي غړي لري او د پنځو کلونو لپاره د خلکو په خوښه ټاکل کیږي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.

د دغه هېواد د قضاییه قوې په سرکې ستره محمکه ځای لري، چې قاضیان یې د ولسمشر لخوا ټاکل کیږي. د ترکمنستان حقوقي نظام پر مدني قانون ولاړ دی.

دغه هېواد د ۱۹۹۱ ز کال د اکتوبر په ۲۷مه له پخواني شوروي اتحاد څخه خپلواکي واخیسته او اوس هر کال همدا ورځ د خپلواکۍ د ورځې په نوم پکې نمانځل کېږي.

ترکمنستان یو دښتي هېواد دی، چې د څارویو روزنه پکې په کوچیاني بڼه ډېره دود ده. ډېره کرنه یې پر هغو ځمکو باندې کیږي چې اوبیږي. له دې ځمکو څخه په نیمایي زیاتو کې یې پنبه کرل کیږي. ترکمنستان د پنبې د تولید له پلوه د نړۍ په لسو غټو هېوادونو کې شمېرل کیږي. د شوروي اتحاد د مرکزي پلان د سیستم له نړېدلو وروسته د دغه هېواد د پنبې په کر او صادراتو کې کموالی راغی. په ۱۹۹۳ ز کال کې د دغه هېواد د پنبې صادرات ۴۷ سلنه کم شول، ترکمنستان همدا راز په نړۍ کې د طبیعي ګازو او تیلو له پلوه پنځم ځای لري. ترکمنستان د پخواني شوروي اتحاد د نورو جمهوریتونو په پرتله، د اقتصادي ګډوډۍ له امله لږ زیان لیدلی دی، ځکه چې دوی د نړۍ په بازارونو کې د ګازو او تیلو له لوړې بیې څخه ډېره ګټه اخیستې او ډېر اسعار یې تر لاسه کړل. په ۱۹۹۴ ز کال کې د روسیې فدراتیف د نړۍ مارکیټونو ته په لوړه بیه د ترکمنستان د ګازو په صادراتو کې ستونزې زیاتې کړې، چې له امله یې د دغه هېواد صنعتي وده کمه شوه، خو په ۱۹۹٦ ز کال کې د دغه هېواد اقتصاد مخ په ښه کېدو شو، خو انفلاسیوني حالت ادامه پیداکړه او په یوه قبیلوي ټولنه کې د پخوانیو کمونیستانو رژیم د اقتصادي ریفور نوې کتنه پیل کړه او تمه یې درلوده چې د پنبې، تیلو او ګازو د خرڅلاو له عوایدو څخه به خپل کمزوری اقتصاد پیاوړی کړي.

کله چې قربان ګلي بردي محمدوف د ترکمنستان ولسمشر شو، په هېواد کې یې د دولتي او خصوصي اقتصاد د ودې تګلارې روښانه کړې، قوانین یې ساده کړل او هڅه یې پیل کړه چې هېواد ته بهرني پانګه‌وال راوبولي. د محمدوف په وخت کې ترکمنستان د پرمختګ ګړندي ګامونه اوچت کړي دي. دولت؛ برېښنا، ګاز، مالګه، اوبه او ښاري ټلیفونونه وړیا کړي. جاپاني او ایټالوي کمپنۍ د تیلو او ګازو په ایستلو او چاڼ لګیا دي. د سیلانیانو لپاره نمونوي او خورا ښایسته ښارګوټي جوړ شوي او د ۲۰۱۰ ز کال په ډسمبر کې د افغانستان له لارې هند او پاکستان ته د ترکمنستان د ګازو د صادرولو د اتو بلیون ډالریزې پروژې هوکړه لاسلیک شوه. د دغې نللیکې له لارې به د ترکمنستان ګاز پاکستان او هند ته صادر شي، د دغه پروژې بشپړول پنځه کاله وخت نیسي او لا هم ګټې اخیستنې ته نه ده سپارل شوې.

د ترکمنستان ډېره خاوره د قراقرم وچ ډاګ نیولې ده، د دغه هېواد دولت تر اوسه د قراقرم د کانال په واسطه د دې ډاګ یو څه ځمکه آباده کړې ده. دغه کانال د آمو دریا اوبه د ترکمنستان مرکز او نورو منځنیو سیمو ته رسوي. د دغه هېواد اووه سلنه خاوره د کرنې وړ ده. د دغه هېواد ٦۵ سلنه ځمکه څړځایونو او پاتې نوره ځنګلونو، غرونو، بېدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د ترکمنستان ۴۵ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۲۵ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.

وربشې، غنم، پنبه، کچالو، انګور، سابه، واښه، غوښه، لبنیات، هګۍ او وړۍ د دغه هېواد مهم کرنیز تولیدات دي.

نفت، ګاز، سوډیم، سلفایډ، سلفر، سرپ، مس، د ډبرو سکاره او مالګه د دغه هېواد مهم کانونه دي. د ترکمنستان لوی تجارتي شریکان روسیه، چین، ترکیه، عربي متحده امارات، اوکراین، جرمني او مالیزیا دي.

دغه هېواد ۳۰ هوایي ډګرونه لري چې ۲۴ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. همدارنګه د دغه هېواد د ټلیفون کود ۰۰۹۹۳ او د انټرنېټ کود یې TM دی، چې ټولټال یې یو میلیون کسان ورته لاسرسی لري.

په ترکمنستان کې محدودې رسنۍ او راډیوګانې شته چې هغه هم په دولت پوره اړه لري، خو پاتې دې نه وي چې اوس اوس خصوصي سکټور ته هم ونډه ورکړل شوې ده.

دغه هېواد د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید د پر له پسې ډېرښت له امله، د اسیا یو پرمختلونکی هېواد بلل کیږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلنو څخه پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهیږي. په دغه هېواد کې زده کړه له ۷-۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره وړیا او جبري ده.

د ترکمنستان په اوسنۍ خاوره کې خلک د تاریخ په ډېرو پخوانیو پېړیو کې استوګن شوي دي. ترکمنستان له میلاد څخه مخکې د څلورمې او شپږمې پېړۍ تر مینځ د هخامنشیانو د ستروا کۍ یوه برخه بلل کېده. وروسته بیا د اشکانیانو او ساسانیانو تر واکمنۍ لاندې راغی. په پنځمه پېړۍ کې هونانو پر ترکمنستان یرغل وکړ او ساسانیان یې د کپه داغ غرونو ته وشړل. د اوومې پېړۍ په نیمایي کې مسلمانو اعرابو و کولای شول چې د آسیا په دې سیمه کې د فتوحاتو په لړ کې، مرو ونیسي او هلته د ماورالنهر د نیولو لپاره یو پیاوړی مرکز جوړ کړي.

د نهمې پېړۍ له پای څخه د لسمې پېړۍ تر پایه پورې د بخارا د سامانیانو سلسلې د ترکمنستان ډېره برخه تر کنټرول لاندې راوسته. البته له دې څخه مخکې په پنځمه او شپږمه پېړۍ کې ترکي قبایلو د منځنۍ اسیا جنوب لوېدیځو سیمو ته لار موندلې وه. همدا راز د اوغوز قبایل چې له مغولستان څخه لېږدېدلي او په لسمه پېړۍ کې ورو ورو د اوران او اورال تر مینځ خواره شوي وو، په اوسني ترکمنستان کې ځای پر ځای شول.

ترکمنستان د پخواني شوروي اتحاد له هغو څو پخوانیو جمهوریتونو څخه دی، چې له خپلواکۍ وروسته له کورني تاوتریخوالي او ستونزو سره مخامخ نه شو او د دغه هېواد ثبات ډېر بهرني پانګه‌وال په ترکمنستان کې کار او پانګونې ته وهڅول.

ترکمنستان له افغانستان سره ۷۴۴ کیلومتره اوږدې پولې او ژورې دینې تاریخي فرهنګي او اقتصادي اړیکې لري. پر ترکمنستان باندې د شوروي اتحاد د واکمنۍ په موده کې د دواړو هېوادونو اړیکې د مسکو له لارې وې، خو د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته، افغانستان د ترکمنستان خپلواکه جمهوریت په رسمیت وپېژاند. د ۱۹۹۲ ز کال د فبروري په ۲۱مه افغانستان او ترکمنستان د ډیپلوماټیکو اړیکو د جوړولو تړون لاسلیک کړ او پاتې دې نه وي چې افغانستان له ترکمنستان سره دوه فعاله بندرونه لري. لومړی د تورغنډۍ بندر چې اوږد عمر لري او دویم د فاریاب په ولایت کې د آقینه بندر او د دې ترڅنګ، ترکمنستان افغانستان ته برېښنا، تیل او ځینې نور مواد صادروي.

له افغانستان څخه تر ترکمنستان پورې د هوا له لارې فاصله ۹۱۹ کیلومترو ته رسیږي او همدا راز د کابل او عشق آباد ښارونو ترمینځ د وخت توپیر ۳۰ دقیقې دی.



همیانی

# موږ هر یو په د ننه کې بشپړ او بریالی انسان یو

حمیدالله حمیدي

پوهان وایي، فکر مو په سمه لاره برابر کړئ او له منفي فکرونو ځان وژغورئ. ټول ذهن مو پر هغه څه متمرکز کړئ چې خدای پاک (ج) ستاسې په اړه ویلي دي. کله مو چې فکر سم وي، ژوند به مو سم وي. د شاه پرک چینجی ته ښه ځیر شئ. هغه په لومړي سر کې یوازې یوه پیله (چینجی) وي. وروسته خدای پاک (ج) په خپل قدرت سره ورته وزرونه ورکوي او ځومره ښکلی کېږي.

زموږ هر یوه په د ننه کې یو بشپړ او بریالی انسان پروت دی. دغه انسان له هر ډول بد عادت او روږدي کېدو په امن دی. دغه انسان ډاډمن او د باور وړ دی. د ورتیا څښتن، نوښتگر او متمرکز دی، خو ستاسې په د ننه کې دې دا ډول یوه انسان شته والی په دې مانا نه دی چې خپله به ځان را ښکاره کوي. دغه انسان خپله باید خپلواک شي.

د ټولو ژوندیو موجوداتو ژوند له دې پړاو تېرېږي. همدغه چینجی یوه ورځ پیله سورۍ کوي او ترې راوځي. لومړی یې یوه پښه او وریسې یو وزر راوځي. ډېر ژر یې سر هم راوځي. ډېر وخت نه پرې وځي چې شاه پرک ټول له پیلې راووځي. که دې بهیر ته ښه ځیر شو، یو ساده چینجی په یوې ښکلې حشرې یا شاه پرک بدلېږي. د دې پر ځای چې پر ځمکه ولغړي اوس کولای شي الوت وکړي، د هر بڼ هر ښکلي گل ته ورشي او حس یې کړي.

موږ هم د دې چینجي په څېر کمال ته د رسېدو لپاره له ځینو بهیرونو تېرېدونکي یو، که خپل تگلوري ته پام ونه کړو، د خلکو منفي فکرونه مو جذبوي. موږ ډېر کله فکر کوو چې نشم کولای پرمختگ وکړم. زه یې وړتیا نه لرم. زه ښه کورنۍ نه لرم یا دا چې ډېرې تېروتنې لرم. خدای پاک (ج) به مې هېڅ کله ونه بښي. پوهېږئ؛ دا کوم فکرونه دي؟

منفي فکرونه! که همدا ډول ژوند ورسره وکړو، هغه دی چې هېڅ وخت به له ځمکې را پورته نه شو. خدای پاک (ج) موږ ته په تقدیر کې د بڼې د بدلون وړتیا ابښې ده. لکه څه ډول چې یو عادي چینجی پر یوه ښکلي شاه پرک بدلېږي، دغه راز انسان هم له خپلو منفي فکرونو را وتلی شي او ځان کمال ته رسولی شي. مهم ټکی دا دی چې دا په موږ پورې اړه لري. د دې لپاره چې له منفي فکرونو ځان خلاص کړو، د زړه شاه پرک ته مو اجازه ورکړئ چې الوت وکړي.

هغه کوم شیونه دي چې د چینجي په څېر مو په پوښ کې ساتي؟

هېڅ وخت به مې وزن کم نه شم کړای. شرکت به مې بریالی نه شي. زه یوه ښه مور نه یم. دا هغه فکرونه دي چې له کاروانه مو وروسته پاتې کوي. تاسې باید پوه شی چې په خپل باطن کې یوه ښه مور لری او هغه ازادي غواړي، که غواړئ بدلون وکړی، باید ومنئ چې:

همدا اوس زه یو ښه پلار او یا هم یوه ښه مور یم. زه باید خپل ذهن بیا ورغوم او دغه باطني انسان ته ازادي ورکړم. کېدای شي تاسې خپله روږدي شوي یاست، خو په وجود کې مو یو خپلواک انسان موجود دی. کېدای شي په مالي برخه کې له ستونزو سره مخ وی، کاروبارو مو سم پر مخ نه ځي، خو همدا اوس ستاسې په وجود کې یو داسې انسان شته چې هغه پور ورکوي، نه دا چې پور اخلي. که غواړئ ذهن مو بیا ورغوی، ځان له هغه څه سره همغږی کړئ چې خدای پاک (ج) ستاسې په اړه ویلي دي. که مو دغه څه پر ځان عملي کړل، هغه دي چې د وجود د ننه انسان مو را وینښېږي او ځرگندېږي.

که فکر کوی چې بدل به نه شی کولای او له دې حالته ځان نه شی ایستلی، هغه ده چې په همدې حالت به پاتې وی. یوازې ځان ته ووایئ، بدلون کولی شم او زما بشپړتیا له همدې نن ورځې پیلېږي. یوازې د همدې کار په کولو سره کولای شی خپل باطني انسان خپلواک کړی. زه داسې کسان پېژنم چې خورا لوړې وړتیاوې لري. په خپل وجود کې ډېر څه لري، خو تر اوسه بشپړ شوي نه دي او کمال ته نه دي رسېدلي. دوی منفي فکرونو ته اجازه ورکړې چې تل یې په ذهن کې انگازې وکړي. د دې وخت را رسېدلی چې له پیلې (پوښ) څخه ځان را وباسي، که تاسې هر وخت د بدلون لپاره متې را بډ وهی، خدای پاک (ج) مو مرسته کوي، ځو کمال ته ورسېږی. که تاسې حرکت وکړی، خدای پاک (ج) مو په کار کې برکت اچوي. همدا نن پاڅئ او ځان ته ووایاست، کمال ته د رسېدو وخت را رسېدلی دی. خدای (ج) ښښونکی دی، خدای به مې وبښي. پوهېږم چې خپلواک، نوښتگر، د وړتیا څښتن او منظم به شم. زه د دې هرڅه وړتیا لرم.

خبره یوازې دا نه ده چې مثبت اوسی، بلکې ترځنگ یې پر خپل ذهن هم کار وکړئ. کله مو چې دا کار وکړ، وبه گورئ چې وزرونه مو وغوړېږي. وبه وینئ چې پښې مو له پوښه راوځي. په ډېر لږ وخت کې به په بشپړه توگه د منفي فکرونو له جاله را ووځی. تاسې به د یوه ښکلي شاه پرک په څېر د الوت لپاره تیار شی او داسې ځایونو ته به ځان ورسوی، چې ان خوب مو یې هم نه و لیدلی.

رابرټ یې له خپل پلندر پلار سره لوی شو. تل به یې ځوراوه او ظلم به یې وربانديې کاوه. هغه ته په ځلونو دا کلمې کارول کېدې چې:

ته ډېر مردارخور یې او د هېڅ کار د تر سره کولو وړتیا نه لرې. «ولې دې د ورور په څېر نه یې؟» رابرټ همدې منفي فکرونو ته اجازه ورکړې وه چې ان پر ژوند یې منفي اغېز وکړي.

هغه په شرم، ناامنۍ او پرته له دې چې هیلې ولري، را لوی شو. کله چې له منځنی ښوونځي فارغ شو، په یوه شرکت کې یې د دروازې د ساتونکي په توگه دنده پیل کړه. مور یې بیا ځلې واده وکړ، خو دا ځل یې نوی ناسکه پلار پخواني ناسکه پلار ته ورته نه و. هغه به رابرټ ته همدا ویل چې ته ډېر ذکي یې، ته ډېره وړتیا لرې او هرڅه چې غواړې ورته رسېدای شې. دې ناسکه پلار یې د زړه له تله او له اخلاص او ایمان ډکې خبرې ورته کولې. غوښتل یې ذهن یې له سره پروگرام کړي او پوښتنه یې ترې وکړه چې غواړې راتلونکې کې څه شی شې؟

رابرټ ورته وویل، غواړم په همدې اوسنۍ دنده پاتې شم. لا یې هم ذهن نه و راویښ شوی او هره شپه به له خپل همدې کوچنی فکر سره ویده کېدو او ورځ به یې ورسره تېروله.

ناسکه پلار یې ورته وویل، رابرټ!

ته تر هر چا ډېره وړتیا لرې او ذکي یې. زه ډاډ درکوم او وعده درسره کوم چې که ته کالج ته لاړ شې، د کالج، کتابونو، یونیفورم او نورو ټولو لگښت درکوم.

رابرټ چې کله دا خبره واورېده، په ذهن کې یې یو څه راویښ شول. په رابرټ تر اوسه هېچا پانگونه نه وه کړې. نوموړي ته تر اوسه هېچا نه وو ویلي چې په باطن کې یې ډېر ښه زړې دي، چې باید اوبه ورکړل شي او را شنه شي. هغه کالج ته لاړ او څلور کاله وروسته یې د کارپوه په توگه تحصیلي اسناد تر لاسه کړل. نوموړي پرېکړه وکړه چې د کارپوه په توگه به په دې برخه کې تر دې هم لوړ مدرک واخلي او ان د دوکتورا پر اخیستو هم بریالی شو.

لا یې دا دوره نه وه بشپړه کړې، چې پوهنتون ته لاړ او په یوه بله برخه کې یې هم اسناد واخیستل. څلور کاله وروسته یې دې ناسکه پلار ورته وویل رابرټ!

زما کار نور پای ته ورسېد، نور ته پوهېږې او کار دې. رابرټ نن ډېر لوی لوی کارونه تر سره کوي. بریالی ژوند لري او د خلکو لاس نیوی کوي. که یې ذهن له سره نه وای رغولی، دې ځای ته نه شوای رسېدی. باید له هغه پخواني پروگرام څخه یې ځان ایستلی وای چې د تباهۍ لپاره یې فلان شوی و، خو د ذهن بیارغونه یې د دې لامل شوه چې هم خپل ژوند بدل کړي او هم له نورو سره مرسته وکړي.

## نیویارک ټایمز: ښایي له افغانستانه له دوو کلونو په کمه موده کې د ځواکونو پر وتلو هوکړه وشي

امریکایي ورځپاڼې نیویارک ټایمز د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو په اړه د افغان حکومت، طالبانو او خلیلزاد ځرگندونو ته په اشارې یو مطلب خپور کړی دی. په دغه مطلب کې راغلي، د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو ناڅرگندتیا به د سولې بهیر پېچلی کړي. ورځپاڼه کاږي، افغان حکومت له طالبانو سره د مخامخ خبرو اعلان مخکې له وخته کړی دی؛ ځکه په دې تړاو د طالبانو دریځ روښانه و او هغه دا چې دوی پخوا لا ویلي چې تر هغو پورې له افغان لوري سره خبرې نه کوي، څو چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په اړه یوه هوکړه نه وي شوې.



د ورځپاڼې په خبره، تمه ده چې امریکا او طالبان د امریکایي ځواکونو د وتلو لپاره پر یوه مهالوېش سره سلا شي او دوی ښایي هوکړه وکړي چې امریکایي ځواکونه له دوو کلونو په کمه موده کې ووځي، خو له دې سره به شرطونه تړلي وي.

نیویارک ټایمز دغه خبره داسې مهال کوي چې وړمه ورځ افغان حکومت اعلان وکړ چې په راتلونکو دوو اونیو کې به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې پیل شي. له دغه اعلان وروسته، وسله والو طالبانو د حکومت دغه ادعا رد کړه او ویې ویل چې دغه خبرې له امریکایي لوري سره تر هوکړې وروسته له افغان سیاسیونو سره کوي، نه له حکومتي لوري سره.

## نوماندانو شورا: که وروستۍ حکومتي گومارنې لغوه نه شي، ټاکنې به تحریم کړو

د محمد حنیف اتمر په مشرۍ د سولې او اعتدال ټاکنیز ټیم د وروستیو حکومتي گومارنو په غبرگون خپلې ټاکنیزې مبارزې د دریو ورځو لپاره ځنډولې دي.

بلخوا د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو شورا هم دغه خبر تاییدوي او وایي چې دا شورا د ټاکنو د تحریم په اړه وروستۍ پرېکړې ته لا نه ده رسېدلې.

په ورته وخت کې د ولسمشرۍ د راتلونکو ټاکنو نوماند شهاب حکیمي هم د شورا د نورو غړو په استازیتوب ازادي راډیو ته ویلي چې که وروستۍ حکومتي گومارنې لغوه نه شي، ټاکنې به تحریم کړي.

حکیمي ویلي چې دوی په پام کې لري چې په دې اړه یو ۱۴ ماده ییز پرېکړه لیک هم خپور کړي.

د حکیمي په خبره، هغه گومارنې چې په دې وروستیو کې شوې، که لغوه نه شي او تر راتلونکې پنجشنبې یې غوښتنو ته ځواب ونه ویل شي، نو ټاکنې به تحریم کړي.



بلخوا د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي په دې اړه ازادي راډیو ته ویلي چې حکومتي گومارنې د ولسمشر قانوني حق دی او د قانون له مخې مقررۍ تر سره شوې دي.

دا څرگندونې په داسې حال کې دي چې د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره مبارزې تېره ورځ په رسمي توگه پیل شوې.

د یادونې ده چې د ولسمشرۍ راتلونکې ټاکنې د تلې میاشتې په شپږمه نېټه تر سره کېږي چې د افغان ولسمشر محمد اشرف غني او اجرایه رییس عبدالله عبدالله په گډون، ورته ۱۸ کسانو ځانونه کاندید کړي دي. دا لومړی ځل نه دی چې د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو شورا د ټاکنو د تحریم گواښ کوي، بلکې تر دې وړاندې یې بیا بیا ولسمشر غني په ټاکنو کې له حکومتي امکاناتو په کارولو او کمپاینې گومارنو تورن کړی دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۲۰ |
| € | ۸۸,۵۰ |
| Rp. | ۵۰۰ |
| ₹ | ۱۱۶۰ |
| ¥ | ۱۱,۴۰ |
| £ | ۹۸ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۸ د زمري اوومه | د ۲۰۱۹ د جولای ۲۹مه | ۴۱۲مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۳ | ۴۰ | ۴۲ | ۴۳ | ۳۷ | ۳۷ |
| ۲۰ | ۲۴ | ۲۸ | ۳۰ | ۲۸ | ۲۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۴ | لمر ختل ۰۵:۰۰ | ماسپښین ۱۲:۰۱ | مازیګر ۰۳:۴۹ | ماښام ۰۷:۰۰ | ماخوستن ۰۸:۳۷

## نړۍ



# ډانفورډ: په منځني ختیځ کې لاهم د داعش ډلې ګواښونه پر ځای پاتې دي

۳

## د امریکا کانګرېس ولسمشر ټرمپ په دغه هېواد کې پر تبعیضي چلن تورن کړی دی



د امریکا د کانګرېس ډیموکراټې مشرې نانسي پلوسي د دغه هېواد ولسمشر ډونالډ ټرمپ د یوه افریقایي الاصله امریکایي او د کانګرېس غړي ایلیژا کامېنګز په تړاو له څرګندونو وروسته پر تبعیضي چلن تورن کړی دی.
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې ټرمپ په یوه ټویټ کې پر کامېنګز او د هغه پر ولسوالۍ ماریلنډ تونده نیوکې کړې دي.
ټرمپ په بالتیمور کې د کامېنګز تورپوستې ولسوالي «د مږو او موږکانو تش لښکر» بللې دی.
ټرمپ دغه راز ویلي چې کامېنګز د امریکا- مکسیکو پر پوله له کډوالو سره د امریکا د تګلارې په نیوکه کې د «زور» خبره کړې ده.
نوموړي د کانګرېس د څار د کمېټې د مشر په توګه، هغه د کډوالو په توقیف ځایونو کې د چال چلن په ګډون، د ولسمشر ټرمپ د ادارې په بېلابېلو پالیسیو کې بیا بیا څېړنې پلان کړې وې.
بلخوا د متحده ایالتونو د کانګرېس مشرې نانسي پلوسي د کامېنګز په تړاو د ټرمپ څرګندونې غندلې او هغه یې له تبعیضه ډکې بللې دي.
بلخوا د را روانو ولسمشریزو ټاکنو د نوماند جوبایډن او کامالا هاریس په ګډون، نورو ډیموکراټانو هم د ټرمپ پر ټویټونو ملنډې وهلې دي.
د یادونې ده چې تېره اونۍ کامېنګز د کورني امنیت وزیر کیوین مکالینن د کانګرېس په یوه استماعیه غونډه کې د کډوالو د توقیف په مرکزونو کې د روان وضعیت په اړه سختې نیوکې وکړې.
دا لومړی ځل نه دی چې د کانګرېس غړي ولسمشر ټرمپ پر تبعیضي چلن تورنوي، بلکې تر دې وړاندې یې هم په نوموړي ورته تورونه لګولي دي.

## روحاني: په فارس خلیج کې به د بهرنیو ځواکونو ځای پر ځای کېدل روان کړکېچ پراخ کړي



د ایران ولسمشر حسن روحاني خبرداری ورکړی چې په فارس خلیج کې به د بهرنیو ځواکونو ځای پر ځای کېدل په سیمه کې روان کړکېچ نور هم پراخ کړي.
وروسته له هغې چې ایران په هورمز تنګي کې د برېټانیا تېل وړونکې بېړۍ له عملي سره یو ځای برمته کړه، برېټانیا اعلان وکړ چې له اروپایي متحدینو سره به یوځای په فارس خلیج کې د بېړیو د امنیت د خوندیتوب لپاره سمندري ځواک رامنځته کړي.
خو د ایران ولسمشر حسن روحاني د عمان د بهرنیو چارو له وزیر سره په خبرو کې د برېټانیا د دغه اعلان پر وړاندې غبرګون ښودلی او په خبره یې چې دغه اقدام به سیمه نوره هم د کړکېچ لور ته بوځي.
نوموړي دغه راز ویلي چې ایران او عمان په ګډه د هورمز تنګي په ګډون، په فارس خلیج کې د بېړیو د امنیت مسوولیت لري.
هغه دغه راز ویلي چې په دغه سیمه کې به د بهرنیو ځواکونو ځای پر ځای کېدل نه یوازې چې سیمه امنه نه کړي، بلکې روان کړکېچ به تر دې هم پراخ کړي.
روحاني د برېټانوي بېړۍ برمته کېدو ته په اشاري ویلي، چې دغه هېواد په ناقانونه توګه زموږ بېړۍ نیولې وه، نو ځکه مو په ورته اقدام لاس پورې کړ.
هغه دغه راز یاته کړې چې لوېدیځ هېوادونه باید په سیمه کې د کړکېچ پراخولو ته له لمنې وهلو ډډه وکړي.


## کمیسیون انتخابات: رسانه‌ها باید تمام اصول و قوانین را در مبارزات انتخاباتی رعایت نمایند



کمیسیون مستقل انتخابات، رسانه‌ها را مکلف به رعایت اصول در جریان مبارزات انتخاباتی نموده و هشدار داد که در صورت نقض، از طرف کمیتهٔ رسانه‌ها متوسل به اتخاذ انضباطی خواهند گردید.
محمد رفیع رفیق صدیقی رئیس کمیته رسانه‌های کمیسیون مستقل انتخابات، دیروز درنشست خبری گفت که آغاز کارزارهای انتخاباتی و نهادینه سازی ارزش‌های دموکراسی برای انتخابات، بزرگترین و معتبرترین واحد سیاسی بر سرنوشت مردم کشور است.
وی افزود که رسانه‌ها در کارزارهای انتخاباتی نقش فزاینده روی جهت دهی اذهان عمومی و افکار عمومی و تشویق و ترغیب مردم به راهی شدن برای تعیین بزرگترین واحد سیاسی را دارا می‌باشند.
صدیقی، نقش رسانه‌ها در مشارکت همگانی و جهت دهی افکار عمومی به سمت صندوق‌های رای را با اهمیت خوانده و افزود که باید تمام رسانه‌ها توجه به دقت، توازن در محتوا، بی طرفی، احترام به کرامت انسانی و عدم نشر آمار و نظرسنجی‌ها به نفع و یا ضرر نامزد و نامزدان مشخص را داشته باشند.
وی افزود، در صورتیکه معیارهای فوق از جانب رسانه‌ها در مبارزات انتخاباتی در حوزه کار اطلاع رسانی نقض گردد، کمیته رسانه‌ها متعهد بر تطبیق قانون و اتخاذ تدابیر انضباطی در قبال شخصیت‌های مندرج قانون انتخابات خواهند گردید.
به گفتهٔ موصوف، در صورت نقض اصول از طرف رسانه‌ها، در نخست اصدار حکم به اصلاح و بعد از آن به هشدار، جریمه و ابطال اعتبارنامه اقدام می‌نمایند.
وی خاطرنشان ساخت که انتظار دارند رسانه‌های همگانی با سوژه‌های متعدد نسبت به ترغیب و تشویق مردم و تبین رفتار انتخاباتی شهروندان، توجه لازم مبذول دارند.

## ژوند

## په ګرمۍ کې دغه مشروبات وڅښئ!



د تودوخې لوړه درجه د بدن د نظام له اغېزمنولو سره سره، د خوب ستونزې، سټړیا او د تمرکز وړتیا کمزورې کولو لامل ګرځي او انسان پر روغتیایي ستونزو اخته کوي.
له همدې امله دا ډېره مهمه ده چې انسان د هوا حالاتو او مختلفو فصلونو په پام کې نیولو سره ورځني خواړه او مشروبات انتخاب کړي چې په دې ډول د هوا له کبله له پېښېدونکو ناروغیو او روغتیایي ستونزو مخه نیولای شي.

**د ناریال اوبه**

دغه طبیعي مشروب د ګرمۍ لپاره تر ټولو ستره ډالۍ ګڼل کېږي. دغه مشروب بې شمېره روغتیایي ګټې لري او د بدن تودوخې په ټیټولو کې مهم رول لوبوي.


**د لیمو اوبه**

لیمو هم د ګرمۍ د ناوړه اغېز په له منځه وړلو کې د پام وړ مرسته کوي. لیمو د ویټامین سي د لرلو له امله روغتیایي ګټې لري او انسان له مختلفو ناروغیو ژغورلای شي.

**سړه قهوه**

د ورځې په پیل کې انسان کافین نومې موادو ته اړتیا لري چې له همدې امله سهار وختي سړه قهوه پر نورو بې شمېره روغتیایي ګټو سربېره، د ګرمۍ ناوړه اغېز هم له منځه وړي او د تمرکز وړتیا لوړوي.

## منفي افکار مو څه ډول ذهن له کاره غورځوي؟



هغه فکر چې ماشومان یې په کوچنیوالي کې د ژوند په اړه لري، ډېر په زړه پورې دی. هغوی په خپل ژوند کې ډېرې هیلې لري. هغوی غواړي یو عالم، فضا پېژندونکی، هنرمند، ښوونکی، ورزشکار او ان ولسمشر شي. دوی د دغو موخو لپاره هېڅ وېره نه لري. د ناامنۍ احساس نه کوي. دوی باور لري چې د هر کار د تر سره کولو وړتیا لري. د دغه هر څه جرئت ځکه لري، چې دوی ډېر تازه د خدای پاک له لوري ځمکې ته راغلي او تر اوسه پورې له هېڅ کومې منفي خبرې سره مخ شوي نه دي. وروسته بیا د وخت په تېرېدو سره د هغوی ذهن بدلون کوي او له منفي افکارو ډکېږي. کله چې یو ښوونکی وایي: «ته د دې کار لپاره نه یې جوړ او ډېر کوچنی یې»، نو په دې وخت کې یې د زده کوونکي پر خپل ځان باور کمېږي.
په همدې وخت کې یو بل همزولی ویني چې ډېر ښایسته او دنګه ونه لري، هغه دی چې د حقارت احساس کوي. دغه حقارت یې داسې مرحلې ته رسوي چې د خپل ځان په ټولو ښېګڼو یې سترګې پټېږي او یوازې منفي اړخونه یېویني. څه موده وروسته کېدای شي د لویو هیلو په اړه هېڅ فکر ونه کړي او له ځان سره به وایي: «زه هېڅکله هم نشم کولی چې لوی کارونه تر سره کړم، زه وړتیا نه لرم او زه یو معمولي کس یم».